د افغانستان اسلامي امارت

لـــــــــــوړو زده کړو وزارت

شيخ زايد پوهنتون رياست

علمي چــارو معاونيت

د کيفيت لوړونې آمريت

## د کيفيت تضمين او اعتبار ورکولو اصلي او فرعي معيارونه

**د کيفيت تضمين نوی چارچوب ۱۱ اصلي معيارونه او ۴۲ فرعي معيارونه لري، دا معيارونه د هرې مرحلې لپاره دي، اسناد او شواهد يې تغيير نهٔ کوي او يوازې د غوښتنو سطحه يې تغييرېږي.**

**لومړی(۱) اصلي معيار: لرليد، رسالت او ستراتيژيکه پلان جوړونه:** پوهنتون يو روښانه لرليد، رسالت او ستراتيژيک پلان لري چې د ټولو ونده اخېستونکو لپاره د پوهېدو وړ دی. دا پلان د پوهنتون لپاره د تصميم نيونې او د سرچينو په ځانګړې کولو کې اساسي رول لوبوي.

**د لومړي معيار فرعي معيارونه**

**۱- فرعي معيار: لرليد او رسالت:** د پوهنتون لرليد او رسالت د ستراتيژيک پلان د اساسي برخې په توګه په روښانه، جامع/ معياري او مناسبه بڼه ترتيب شوی، چې د پوهنتون لومړيتوبونه يې مشخص کړي او په اصولي ډول طی مراحل شوي دي.

**۲- فرعي معيار: ستراتيژيک پلان جوړونه:** پوهنتون د لوړو زده کړو وزارت سره په همغږی د پينځه کلن ستراتيژيک پلان جوړونې معياري پروسه مخته وړي. د پوهنتون ستراتيژيک پلان لېږ تر لږه د معلوماتي ټکنالوژی، علمي څېړنو، د عوايدو ترلاسه کول، نړيوال فعاليتونه، په افغاني ټولنه کې د پوهنتون ونده او پرمختګ په څېر محورونه لري.

**۳- فرعي معيار: کلنی پلان جوړونه (عملياتي):** پوهنتون د ستراتيژيک پلان په درست ډول د تطبيق په موخه د اداري او علمي کارکوونکو په مرسته معياري کلنی پلان ترتيب کړی او لهٔ تطبيق څخه يې څارنه/ نظارت کوي.

**۴- فرعي معيار: د ستراتيژيک پلان په هکله پوهاوی :** پوهنتون د اړوند ستراتيژيک پلان، د لرليد او رسالت په هکله اړين معلومات په مختلفو لارو لهٔ نورو سره شريکوي. --------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------

**دويم(۲) اصلي معيار: د ټولنې په پرمختګ او د نظام د تګلارو په تطبيق کې د پوهنتون برخه اخيستل:** پوهنتون د اميرالمؤمنين (حفظه الله تعالی) د فرامينو د پوهاوي، تطبيق او د نظام د تګلارو اړوند د اجراآتو او ټولنې په پرمختګ کې فعاله او اغېزناکه ونده اخلي.

**د دويم معيار فرعي معيارونه:**

**۱- فرعي معيار: د فرامينو او تګلارو تطبيقول:** پوهنتون د اميرالمؤمنين(حفظه الله تعالی) د فرامينو د تطبيق او پوهاوي لپاره مناسب جوړښت رامنځته کړی او اړين تدابير يې نيولي دي.

**۲- فرعي معيار: د ټولنې په پرمختګ کې د پوهنتون ونډه:** د پوهنتون علمي کادر غړي او محصلين د علمي او فرهنګي فعاليتونو لهٔ لارې د ټولنې د پوهاوي سطحې په لوړولو او پرمختګ کې فعاله ونډه اخلي. ------------------------------------------------------------------------------------------------------

**درېيم (۳) اصلي معيار: رهبري او اداره:** د پوهنتون رهبري او اداره خپل اړوند رسالت او ستراتيژيکو اهدافو ته رسېدو باندې ټينګار لري.)

**د درېيم معيار فرعي معيارونه**

**۱- فرعي معيار: رهبري:** پوهنتون د يو اغېزمن او باصلاحيته ټيم لخوا په رسمي وختونو کې رهبري کېږي).

**۲- فرعي معيار: اداره:** د پوهنتون اداري نظام د ټاکل شوي رسالت پر اساس او د ستراتيژيکو لومړيتوبونو په پام کې نيولو سره پر مخ وړل کېږي)

**۳- فرعي معيار: اخلاقي اصول، انصاف او عدالت:** پوهنتون د اخلاقي چلند لهٔ معيارونو، انصاف او عدالت سره سم عمل کوي، لهٔ فساد، واسطې او قومپالنې څخه مخنيوی کوي. همدا راز د پوهنتون په ټولو کاري برخو کې انصاف او عدالت نافذ دی او لهٔ تطبيق څخه يې دوامداره څارنه ترسره کېږي).

---

**څلورم (۴) اصلي معيار: مالي سرچينې او د هغې مديريت:** د پوهنتون مالي سرچينې د رسالت اوستراتيژيک پلان د تحقق په موخه ځانګړې شوي او مديريت کېږي.

**د څلورم معيار فرعي معيارونه:**

**۱- فرعي معيار: مالي سـرچينې او مالي پلان جوړونه:** پوهنتون د خپل رسالت، د برنامو د اړتياوو او وړاندې کېدونکو خدماتو د ملاتړ لپاره کافي سرچينې او دوامداره مالي توانايي لري او خپل مالي پلانونه د ستراتيژيکو اهدافو سره سم ترتيب او تطبيقوي.)

**۲- فرعي معيار: مالي مديريت:** پوهنتون د کلنی بوديجې د اغېزمن مديريت په هکله ډاډ ورکوي.

**۳- فرعي معيار: مالي سېستمونه:** پوهنتون د مالي او حسابي مديريت لپاره اغېزمن سېستمونه رامنځته کړي دي.

**۴- فرعي معيار: حساب ورکول:** د پوهنتون عوايد او لګښتونه هر کال تر تفتيش يا کتنې لاندې نيول کېږي.------------------------------------------------------------

**پينځم (۵) اصلي معيار: علمي برنامې :** علمي برنامې د ټولنې د اړتيا او د پوهنتون له رسالت سره همغږي دي او په دوامداره توګه د ښه والي څخه د ډاډ ګېرنې لپاره په منظمه توګه بيا کتل کېږي.)

**د پينځم معيار فرعي معيارونه**

**۱- فرعي معيار: د علمي برنامو اړتياوې:** ټولې علمي برنامې د اړتيا په اساس رامنځته شوې او په هکله يې ټولنې او محصلينو ته پوهاوی ورکول شوی دی).

**۲- فرعي معيار: کلنۍ څارنه:** ټولو برنامو څخه د لارښـــود مطابق په کلني ډول څارنه ترســـره کېږي، د لاســـته راغلو پايلو په اســـاس د برنامو د بهبود لپاره لازم تصميمونه نيول کېږي.)

**۳- فرعي معيار: دوره يي بياکتنه:** د پوهنتون ټولې علمي برنامې په هره تحصيلي دوره کې يو ځل د علمي برنامو د دوره يي بياکتنې د لارښـود له غوښـتنو سـره سـم بياکتل کېږي).

**۴- فرعي معيار: ميتودولوژي:** د زده کړې او تدريس طريقې او روشونه چې په علمي برنامو کې استفاده کېږي په منظم ډول تجديد کېږي).

**۵- فرعي معيار: برښـناپي زده کړې: د زده کړو لپاره له تکنالوژۍ څخه اسـتفاده)** (پوهنتون برښـناپي زده کړو سـيسـتم ته پراختيا او وده ورکړې او په پوهنتون کې يې تطبيق کړې)

**۶- فرعي معيار: د ذينفعانو سـره اړيکې:** پوهنتون د خپلو سـتراتيژيکو اهدافو د ترلاسـه کولو په موخه د داخلي او بهرنيو ذينفعانو سـره هوکړه ليکونه ترسـره کړي.)------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------

**شپږم (۶) اصلي معيار : څېړنه:** پوهنتون د علمي څېړنو لپاره د اړتيا وړ امکانات، زيربناوې او تجهيزات رامنځته کړي، استادان په فعال ډول په څېړنيزو کړنو کې بوخت دي او له امکاناتو څخه ګټه اخلي.

**د شپږم معيار فرعي معيارونه**

**۱- فرعي معيار: زيربنا، امکانات او تګلارې:** د اړتيا په صـورت کې په دوامداره توګه پوهنتون د څېړنو امکانات تجديد کړي، پوهنتون د څېړنو د بقا او ښـــه والي لپاره واضحه تګلاره لري چې عملاً تطبيقېږي او برېښنا پاڼه کې نشر شوې ده.)

**۲- فرعي معيار: مديريتي جوړښـت:** پوهنتون د څېړنو لپاره مناسـب تشـکيل لري چې د ذيربطو ادارو څخه د نظر سـنجۍ په اسـاس د علمي کادر غړو د څېړنو لپاره ساحه مشخصوي.).

**۳- فرعي معيار: څېړنيز فعاليتونه:** پوهنتون علمي کادر غړي او محصلين د علمي څېړنو په ترسره کولو کې په فعال ډول دخيل کړي دي او همدارنګه علمي کادر غړي څېړنيزې پروژې ترســره کوي چې په دې کې اړوند اســناد لکه: پروپوزلونه، قراردادونه، ترســره شــوې څېړنې او ذيربطو ارګانونو څخه مالي ملاتړ ترلاســه کول شتون لري.

**۴- فرعي معيار: ملاتړ:** پوهنتون د علمي کادر غړو د څېړنو لپاره بوديجه په نظر کې نيســـې او دا بوديجه عملاً په مصـــرف رســـوي، د اســـتادانو له لوري د دې بوديجې د عملي مصرف اسناد شتون لري او همدارنګه څېړونکي استادان تشويق او هڅول کېږي.

**۵- فرعي معيار: روزنه او ظرفيت لوړونه:** پوهنتون علمي کادر غړي د تحصـــيلي درجو او څېړنيزو مهارتونو ظرفيت لوړونې په موخه په بورســـونو کې لېږي او همدارنګه د څېړنيزو مهاروتونو د لوړونې په موخه روزنيزې برنامې ورته دايروي؛ تر څو معياري څېړنې ترسره کړي.

------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------

**اووم (۷) اصلي معيار: استادان او کارکوونکي:** پوهنتون استادان او اداري کارکوونکي په دندو ګماري، اداره کوي يې او وده ورکوي؛ ترڅو ډاډ ترلاسه کړي، چې د خپل رسالت او ستراتيژيکو موخو لاسته راوړلو وړتيا لري.

**د اووم معيار فرعي معيارونه:**

**۱- فرعي معيار: علمي کادر غړي:** پوهنتون د علمي کادر متخصص استادان د لوړو زده کړو وزارت د نافذه قوانينو په اساس د ټولو برخو د تدريس لپاره استخدام کړي دي او همدارنګه خپل ټول استادان د يوې واضحې کړنلارې په اساس ارزيابي کوي او د ظرفيت لوړونې برنامې ورته دايروي.

**۲- فرعي معيار: مديريتي، اداري او تخنيکي کارکوونکي:** پوهنتون مديريتي، اداري او تخنيکي برخو کې په کافي شمېر سره، په شرايطو برابر او با تجربه کارکوونکي، د علمي پروګرامونو د تطبيق او اړوند فعاليتونو د ملاتړ لپاره استخدام کړي دي، چې د سرچينو ښهٔ مديريت او استفاده تضمينوي. همدارنګه، پوهنتون خپل مديريتي، اداري او تخنيکي کارکوونکي د واضحې کړنلارې په مرسته په دوامداره توګه ارزوي او د اړتيا په اساس يې د ظرفيت لوړونه کوي.

**۳- فرعي معيار: مسلکي پراختيا:** پوهنتون د علمي غړو، مديريتي، اداري او تخنيکي کارکوونکو لپاره تدريسي امکانات، منابع او د مسلکي پرمختګ فرصتونه برابروي.

**۴- فرعي معيار: علمي ازادي:** پوهنتون د قانون سره سم د علمي آزاديو د خوندېتوب لپاره مناسبه تګلاره خپروي او تطبيقوي.

**اتم (۸) اصلي معيار: د محصل تجربې:** پوهنتون يو داسې مثبت چاپېريال رامنځته کړي، چې محصلين په کې کولای شي زده کړيز پرمختګ وکړي او کاميابي تر لاسه کړي.

**د اتم معیار فرعي معیارونه**

**۱- فرعي معیار: د محصلینو په اړه معلومات او لاسته راوړنې:** پوهنتون باید داسې یو معیاري سیستم ولري چې د محصلینو معلومات راټول او تحلیل کړي، ترڅو د محصلینو فعالیتونه وڅېړي او د پرمختګ څارنه یې وکړي.

**۲- فرعي معیار: د محصلینو نظریات او وړاندیزونه:** پوهنتون یو داسې پروسه رامنځته کړې ترڅو د محصلینو سپارښتنې او نظرونه راټول کړي او د هغې له لارې هغه برخې مشخصې کړي چې باید اصلاح شي.

**۳- فرعي معیار: د فارغانو مهارتونه**

پوهنتون د محصــلانو د عملي مهارتونو د پرمختګ لپاره کار کوي او د کار ګمارونکو ســره د اغېزمنې اړیکې جوړولو له لارې یې د هغوی د وظیفوي برېالیتوب ملاتړ کوي. سربېره پر دې، پوهنتون د محصلانو د عملي مهارتونو د لا ډېرولو لپاره، هغوی د کار زده کړو دورو ته لېږي، د کار موندنو برنامې ترسره کوي او مسلکي رقابتي سیالۍ حمایه کوي.

**۴- فرعي معیار: د محصلینو ملاتړ او خدمات:** پوهنتون د محصلانو د ملاتړ په موخه مناسب پروګرامونه تنظیموي، لازم خدمات وړاندې کوي او اړوند فعالیتونه ترسره کوي. همدارنګه، محصلانو ته د درسي نصاب او مسلکي موضوعاتو په اړه مشورې ورکول کېږي. سربېره پردې، هرې څانګې د خپلو فارغینو لپاره د فارغانو ټولنه ( alumni) ټولنه جوړه کړې ده.

---

**نهم (۹) اصلي معیار: د کیفیت ښه والی او لوړول:** پوهنتون داسې جوړښتونه او پروسې لري، چې د ټولو اړخونو د کړنو کتنه او پرله پسې د کیفیت اصلاح وکړای شي.

**د نهم معیار فرعي معیارونه**

**۱- فرعي معیار: تشکیل او مدیریت:** پوهنتون ډاډ ورکوي چې د کیفیت لوړاوي، ښه والي او اعتبار ترلاسه کولو بهیر د پوهنتون په ټولو کچو کې د تقنیني اسنادو سره سم په مؤثره توګه رهبري او مدیریت شوی.

**۲- فرعي معیار: سرچینې:** پوهنتون ډاډ ورکوي چې د کیفیت لوړاوي او د هغې د پلانونو د پلي کولو لپاره یې اړینې سرچینې چمتو کړي دي.

---

**لسم (۱۰) اصلي معیار: کتابتون او معلوماتي سرچینې:** پوهنتون د خپلو علمي او څېړنیزو برنامو اړتیاوو ته په کتو سره د علمي کادر غړو او محصلینو لپاره د کتابتون او کافي معلوماتي سرچینو ته د لاسرسي مناسبو خدمتونو زمینه برابروي.

**د لسم معیار فرعي معیارونه**

**۱- فرعي معیار: ظرفیت او امکانات:** پوهنتون د مناسبو امکاناتو په شتون سره مرکزي کتابتون رامنځته کړی او د خپلو علمي او څېړنیزو برنامو د ملاتړ لپاره کافي معلوماتي سرچینې چمتو کوي.

**۲- فرعي معیار: مدیریت:** پوهنتون خپل کتابتون او معلوماتي سرچینې په مؤثره توګه مدیریت کوي او د کتابتون څخه د اغېزمنې ګټې اخیستنې ډاډ ترلاسه کوي.

**۳- فرعي معیار: لاسرسی:** پوهنتون علمي کادر غړو او محصلینو لپاره کتابتوني او معلوماتي سرچینو ته د مناسب لاسرسي ډاډ ورکوي.

---

**یوولسم (۱۱) اصلي معیار: زېربنا، تدریسي اسانتیاوې او معلوماتي ټکنالوژي:** پوهنتون ډاډ ورکوي چې فزیکي سرچینې او اسانتیاوې د خپلو علمي برنامو د اړتیاوو، حمایوي خدماتو وړاندې کولو او د ماموریت او ستراتیژیکو موخو سره اړوندو فعالیتونو د پوره کولو لپاره کافي او خوندي دي او د دې سرچینو څخه په معیاري ډول ساتنه او مراقبت کېږي.

**د یوولسم معیار اړوند فرعي معیارونه**

**۱- فرعي معیار: زېربنا او تدریسي اسانتیاوې:** پوهنتون کافي او مناسبې اسانتیاوې لري، چې پکې د تدریس لپاره اړین تجهیزات او امکانات، د علمي برنامو د نصاب مؤثر تطبیق، د څېړنو ترسره کولو، د نصاب څخه بهر فعالیتونو ته د زمینې برابرولو او همدا راز د کارکوونکو او محصلینو د ورځنیو لومړنیو اړتیاوو د پوره کولو اسانتیاوې رامنځته کړي او له هغې څخه ساتنه او مراقبت کوي. همدارنګه پوهنتون خپلو اسانتیاوو ته د خپلو ستراتیژیکو موخو د پلي کولو او پراختیا لپاره پرمختګ ورکوي.

**۲- فرعي معیار: معلوماتي ټکنالوژي:** پوهنتون د خپلو علمي برنامو د اړتیاوو مطابق کافي او مناسب معلوماتي ټکنالوژیکي اسانتیاوې لري او د علمي کادر، کارکوونکو او محصلینو لپاره یې انټرنېټ ته د لاسرسي سهولت برابر کړی دی. همدا راز دا اسانتیاوې په مؤثره توګه مدیریت کوي او له هغوی څخه ساتنه او مراقبت کوي.

**۳- فرعي معیار: د پوهنتون چاپېریال:** پوهنتون د علمي کادرغړو، کارکوونکو او محصلینو لپاره د سالم، خوندي او باثباته چاپېریال د رامنځته کولو لپاره اړین اقدامات ترسره کوي.

**۴- فرعي معیار: د پاراکلینیک مرکز لابراتوارونه:** پوهنتون د خپلو محصلینو د عملي زده کړو لپاره د پارا روغتیایي مرکز دورې لابراتوارونه ترتیب کړي او په واک کې یې ورکوي.

**۵- فرعي معیار: کادري روغتون (تدریسي روغتون):** پوهنتون استادانو او محصلینو ته د کادري روغتون د شتون ډاډ ورکوي.